# WIDA Screener څه شی دی؟

WIDA Screener یوه داسې ازموینه ده چې له ښوونکو سره مرسته کوي ترڅو په ډاګه کړي چې ایا له وړکتون تر 12م ټولګي زده کوونکي د انګلیسي ژبې زده کوونکي دي او که نه. د انګلیسي ژبې یو زده کوونکی هغه زده کوونکی دی چې په رسمي ډول د انګلیسي ژبې اړوند له علمي محتویاتو سره د بریالیتوب لپاره د ژبې ملاتړ ته اړتیا لري.

## زما ماشوم ولې د WIDA Screener ازموینه ورکوي؟

تاسو په یوه نظرپوښتنه کې برخه اخېستې او د هغه ژبې په اړه مو پوښتنو ته ځوابونه ویيل چې تاسو په کور کې خبري وربانده کوئ. ستاسو د ځوابونو پر بنسټ، ستاسو د ماشوم ښوونکي فکر کوي چې ستاسو ماشوم ښايي د انګلیسي ژبې یو زده کوونکی وي. ستاسو ماشوم به WIDA Screener ازموینه ورکوي ترڅو تایید شي چې ایا هغه د انګلیسي ژبې زده کوونکی دی او که نه.

## د WIDA Screener د ازموینې پایلې څنګه کارول کیږي؟

د WIDA Screener ازموینې پایلې ستاسو د ماشوم ښوونکي د دې لپاره کاروي ترڅو پرېکړه وکړي چې آیا ستاسو ماشوم انګلیسي ژبې زده کوونکی دی او که نه.

## د WIDA Screener ازموینه څومره موده وخت لري؟

یاده ازموینه تر 80 دقیقو پورې وخت نیسي ترڅو بشپړه شي، که څه هم د ازموینې وختونه ښايي د زده کوونکو د انفرادي اړتیاوو او د دوی د مهارت کچې پراساس توپیر ولري. د WIDA Screener ازموینې پوښتنې د ژبې څلور برخې لکه (اورېدل، لوستل، خبرې کول، لیکل) تر پوښښ لاندې نیسي.

له 1 تر 12م ټولګي پورې ډېری زده کونکي آنلاین ازموینه ورکوي (ستاسو د ایالت په تګلاره پورې اړه لري). د وړکتون لپاره د WIDA Screener یوه لنډه، د پنسل او کاغذ پرمخ ازموینه ده.



WIDA په Wisconsin-Madison پوهنتون کې د ښوونې او روزنې د څېړنې لپاره د Wisconsin په مرکز کې موقعیت لري.

© 2025 Board of Regents of the University of Wisconsin System, on behalf of WIDA

WIDA™
UNIVERSITY OF WISCONSIN–MADISON

## د چمتووالي لپاره WIDA Screener

- ستاسو ماشوم د WIDA Screener ازموينې لپاره زده کړې ته اړتيا نه لري.
- ستاسو ماشوم بايد د ازموينې په ورځ په خپله پوره هڅه تمرکز وکړي ترڅو ټولې هغه لارې وښيي چې له مخې يې دوی په انګليسي پوهيږي او په انګليسي ژبه خبرې کولی شي.
- د خپل ماشوم له ښوونکو سره په دې په اړه خبرې وکړئ چې تاسو به د ازموينې پايلې کله ترلاسه کوئ او ستاسو د ماشوم ښوونځی څنګه له دې پايلو څخه کار اخلي.



## که ستاسو ماشوم د انګليسي ژبې زده کوونکی وي، دلته هغه پوښتنې شته چې تاسو يې له ښوونکو څخه کولی شئ

- زما ماشوم به په ښوونځي کې د انګليسي ژبې د ملاتړ کوم ډول خدمات ترلاسه کړي؟
- تاسو په ښوونځي کې د ماشومانو ژبو او کلتورونو ته څه ډول ځای ورکوئ؟
- زما کورنۍ څنګه کولی شي زموږ د ماشوم د ژبې په وده کې له هغوی سره په کور کې مرسته وکړي؟
- زما په ماشوم به کله د انګليسي ژبې ملاتړ ترلاسه کول بند کړل شي؟

WIDA په Wisconsin-Madison پوهنتون کې د ښوونې او روزنې د څېړنې لپاره د Wisconsin په مرکز کې موقعيت لري.
© 2025 Board of Regents of the University of Wisconsin System, on behalf of WIDA